# د پناه غوښتنې
# پروسه



## هر څومره ژر چي کولای شئ درخواست وکړئ!

له رارسیدلو سره سم د پناه غوښتني درخواست وکړئ (په هوایي ډګر کې یا د کښتیو په بندر کې) یا هم کله چي تاسي په بریتانیه کې یاست د خپل سوشل ورکر یا د کوم بل د ملاتړ کارکوونکي له لاري. د سوشل ورک خدمتونه به د قانوني استازي په موندلو کې له تاسو سره مرسته وکړي او هغه به تاسو ته د پناه غوښتني د پروسي د ټولو برخو په اړه لارښوونه وکړي.

## ستاسو پالنه او ساتنه به څوک کوي؟

د سوشل ورک خدمتونه به تاسو ته پیسي درکړي او دا خبره به یقیني کړي چي د اوسیدلو لپاره ځای لرئ. دا کیدای شي د اوسیدلو یوه کوټه وي یا ملاتړ شوي پالونکي/رضاعي پالونکي وي. همدا رنګه ډاکټر به هم تاسو ووینی.

## ستاسو د پلټني لومړی مرکه

له تاسو به وغوښتل شي چي له خپل سوشل ورکر یا موقت ساتونکي سره یو ځای (Border & Immigration Agency Home Office) ته ورشئ. تاسو به د خپلي دوسيي له مدیر سره معرفي شئ. دا د کورنیو چارو د وزارت هغه کس دی چي ستاسو د دوسيي مسوولیت په غاړه لري. هغوی به له تاسو څخه پوښتني وکړي چي تاسو ولي بریتانیه ته راغلي یاست، او تاسو ته به دا لاندي اسناد درکړي:

یو لیک چي تاسو ته اجازه درکوي چي ستاسو د درخواست په اړه تر تصمیم نیولو پوري په دي هیواد کي اوسیدلای شئ. دا لیک د IS96 په نوم یادیږي. د شواهدو د بیان فورمه (SEF).

## خپل د SEF فورمه تکمیل کول

دا هغه ځای دی چي تاسي خپل کیسه وایي. تاسو باید دا فورمه د خپل قانوني استازي په مرسته ولیکئ. همدا رنګه ستاسو سوشل ورکر او موقت ساتونکی هم باید په دې غونډه کې موجود وي. تاسي ۲۰ ورځي وخت لرئ چي دا فورمه بشپړه کړئ او بیرته یې ورکړئ. په دي موده کي به ستاسو د دوسيي مدیر له تاسو سره تماس ونیسي چي په دي اړه خبرې وکړي چي ستاسو د غوښتنلیک په اړه به څه کیږي.

## یوه بله مرکه؟

که د مهاجرینو اداره ځیني نورې پوښتني ولري ا و غواړي چي له تاسو د هغي په اړه پوښتنه وکړي هغوی کیدای شي له تاسو وغواړي چي د یوې بلې مرکه لپاه حاضر شئ. ستاسو قانوني استازی به دا خبره تاسو ته تشریح کړي.

## راپور ورکول

کیدای شي له تاسو وغوښتل شی چي په منظم ډول سره د کورنیو چارو د وزارت د راپور ورکولو محلي دفتر ته راپور ورکړئ. هغوی باید په دي اړه له تاسو او ستاسو له سوشل ورکر سره خبرې وکړي.

## ستاسو په اړه تصمیم

د کورنیو چارو وزارت به دا پریکړه کوي چي تاسو باید څه ډول پناه درکړی شي: مهاجرت حیثیت، په انساني بنیاد ساتنه، تر نامعلومي مودي پوري پاته کیدل یا رد کیدل. (د دي کلمو د تشریح لپاره د لغاتو او اصطلاحاتو برخه وګورئ).

## د تصمیم په اړه خوښ یاست؟

که تاسو کوم ډول موقت پاته کیدل لري باید له خپل استازي سره د پاته کیدلو د مودي د پای ته رسیدلو نه څو میاشتي مخکي تماس ونیسئ، او په دي توګه به هغوی وخت ولري چي د تمدید لپاره اپیل وکړي.

## د تصمیم په اړه خوښ نه یاست؟

تاسي او ستاسو قانوني استازی باید د پناه غوښتني او مهاجرت محکمي ته د تصمیم نیوني د پریکړي تر لاسه کیدو نه د ۱ تر ۱۰ ورځو دننه اپیل وکړئ.

په یاد ولرئ چي که دا خبره تاسو ته د ارامي احساس درکوي تاسو کولای شئ چي د کورنیو چارو د وزارت په هره مرکه کي د نارینه یا ښځینه د دوسيي مدیر او ژباړن غوښتنه وکړئ.